# د عبدالاکبر خان اکبر ادبي نظريه

# LITERARY THEORY OF ABDUL AKBAR KHAN AKBAR

وزيرشادان*

ډاکټر فرخنده لياقت*

**Abstract**: Abdul Akbar Khan Akbar is one of those Pashtoon writers who can be truly called a humanitarian and a philanthropic being. It seems, after reading him that he has wept at the miseries of Pashtoons. The aim of his poetry is to uplift Pashtoon race in all respects. He led them successfully as well. His poetry is a cry of awakening for sleeping Pashtoons. He writes under a specific literary idea. Where we see a great message for the development of them (the Pashtoons).

د خپلو جذباتو او خيالاتو اظهار پهٔ داسې موثره ډول کول چې د اوريدونکو يا لوستونکو پهٔ زړونو سمدستي اثر وکړي، ادب بللی شی. هسې خو د ادب ډېر تعريفونه شوي دي خو داسي جامع يو تعريف هم نهٔ لري چې ټول نقادان پرې پهٔ هېر متفق شي. "که ما نه تپوس نهٔ کوئ نو زهٔ پرې پوهېږم او که مانه تپوس کوئ بيا پرې هيڅ نهٔ پوهېږم" (سينټ اګستائن)

مېتهو ارنلډ ادب د انساني ژوند تفسير ګڼي. ډسکورسس د کتابونو پهٔ ذريعه حاصليدونکو معلوماتو ته ادب وائي. ملټن پهٔ بنۀ ادب کښې د يو فنکار د ژوند د وينې سره ګوری.

ډاکټر سلام سنديلوي پهٔ ادب کښې د انسان د زړهٔ درزا اوری. د هغوئ پهٔ نظر کښې پهٔ ادب کښې د انسان ژړا او خندا دواړه ځای وي. (۱)

پروفيسر عابد علی عابد د ادب پهٔ هکله ليکی:-

"وسيع ترين معانی ميں ادب انسان کے افکار و تصورات کا تحريری بيان ہے. عملاً اس کا مطلب يہ ہے کہ ادب ان افکار و تصورات سے مربوط ہوتا ہے جو زندگی کے ليے اہميت رکھتی ہيں، ورنہ ظاہر ہے

* Assistant Professor, Govt. Post Graduat College Kohat.

* Assistant Professor, Deptt. Of Pashto, University of Peshawar, Peshawar.

که انسان کا ہر قول تحریر کا جامہ پہن کر ادب نہیں بن جاتا. ورنہ ہم روزانہ جو بات چیت کرتے ہیں وہ بھی ادب ہوتی، بشرطیہ کہ کوئی اسے لکھ ڈالتا." (۲)

پۀ هر حال ادب د ښکلي او پۀ موثر ډول د اظهار ذريعه ده چې د اديب د خپل ذات پلوشې پۀ کښې هم بريښې او د خارج هم. د ادب موضوع ګانې د عامو خلقو د خوښې باعث وي. ادبي ليکونه يو خاص چوکاټ لري چې د تخيل او جذباتو پۀ رنګ رنګين وي او لفظي ترتيب هم پۀ زړۀ پورې لري.

د ادب دوه لارې دي يو ادب د پاره د ادب او بل ادب دپاره د ژوند. د اولې ډلې خاوندان ادب د انفرادي جذباتو او احساساتو ترجمان ګڼي او فقط حسن او خوشحالي د ادب روح ګڼي. ولې دويمه ډله ادب د ژوند عکاس او تنقيد ګڼي. د ژوند کړۀ وړۀ پۀ ادب کښې وينی.

عبدالاکبر خان اکبر (۱۸۹۹ء-۱۹۷۷ء) د پښتو ژبې هغه اديب او شاعر دی چا چې ادب دپاره د ژوند ببرغ نبغ نيولئ دی. عبدالاکبر خان اکبر (خان بابا) د باچا خان د آزادۍ د تحريک کلک ملګری ؤ. د پښتو اولنۍ ډرامه "درې يتيمان" د دوی تصنيف دی. د ګڼو ډرامو علاوه سفرنامه روسیترکستان افغانستان، روښانيان د مغلو تاريکيان، زموږ نبی صلی الله عليه واله وسلم، اسلام او مسلمان، تراخۀ خواږۀ او ادبي پنګه د دوی کتابونه دي.

عبدالاکبر خان (خان بابا) که هر څو د يوې شتمنې او لويې کورنۍ فرزند ؤ، خو خپل ژوند يې د پښتنو د شېرازۍ ژوند ته وقف کړئ ؤ. پۀ دغه لړ کښې هغوئ ډېر تکليفونۀ وړي دي. د زندان تيارې يې هم ليدلې دي، خو حوصله يې نۀ ده بائيللې او هر ځای يې نبغه خبره کړې ده. خان بابا پۀ هر صورت د پښتنو شيرازه ژوند ته لېواله ؤ. پۀ سياسي تحريکونو کښې پۀ عملي توګه د سر ملګری ؤ خو اخر هغوئ محسوسه کړه چې د قلم اثر ډېر زيات دی نو ځکه يې د قلم پۀ ذريعه د پښتنو د راوېښولو تابيا وکړه. اګر چې هغوئ پۀ اول ځل د شعر او شاعرۍ خلاف ؤ خو د فضل محمود مخفي نه يې اثر واخيستلو او شاعری يې د کار څيز وګڼله. پۀ دغه هکله خان بابا په خپله ليکي:-

"پۀ ۱۹۲۰ کښې زۀ د تحريک پۀ سلسله کښې کابل ته پۀ هجرت تلم نو پۀ غازی اباد مهمندو کښې د حاجي صاحب د ترنګزو پۀ ځای کښې ما

فضل محمود مخفي صاحب وليدو او د هغهٔ کلام مې واوريدو. د شاعر متعلق زما خيال بدل شو، کوم ذهني انقلاب چې د مخفي صاحب شاعرۍ پهٔ پښتونخوا کښې پېدا کړی ؤ، د هغې نه ماته دا معلومه شوه چې شاعري ښه شی دئ. خو چې د قامي ملي تعمير او د يو نصب العين دپاره وي. شاعر د يو قام حالت بدلولو کښې لويه حصه کسبي مداح خوان قصيده ګو شاعر، ناظم نه، او نه هغه ناظم شاعر چې د شاعرۍ نه يې مذهب جوړ کړی وي. همېشه روائيتي زړې لارې لټوي او هغه څه ليکي چې د هغې نه پهٔ علم او ادب کښې نۀ څه زياتي کيږي او نۀ د يو قام،ملک پهٔ معاشي او سياسي حالت څۀ اثر غورځولی شي. داسې شاعري هسې سر خوږي او د زړو باټانو پښې دي" (۳)

د خان بابا د دې ليک نه صفا معلوميږي چې هغوئ ادب د يو انقلابي تحريک پهٔ طورپهٔ کار راولي. ادب د عظيم مقصد غوره ذريعه شماري. هم دغه سبب دی چې د خان ادبي نظريه د عامو اديبانو او شاعرانو نه بېخي بېله ده. هغوئ مقصدي ادب عظيم ادب ګڼي، خان بابا د ادب پهٔ واسطه پښتنو ته شعور او ادراک ورکول غواړي او غافله پښتانۀ د ادب پهٔ چوکاټ بېدارول غواړي. هم پهٔ دغه وجه خان بابا د خپل قلم نه لوئ کار اخيستئ دی. د هغوئ نظم او نثر د مقصد ملغلرې نغښتې لري. هغوی د پښتنو جهالت او بې حسۍ علاج د ادب پهٔ خوږو مګر مقصدي ګولو (Tablets) يې کوي.

د خان بابا ددې عظمت پهٔ هکله پروفيسر ډاکټر فرخنده لياقت ليکي:-

"عبدالاکبر خان اکبر سياسي مبارز ؤ او د سياسي خدماتو سره سره چې کوم دويم لوی خدمت کړئ دی، هغه د هغوئ ادبي هلې ځلې دي. دوی پهٔ مختلفو ذريعو د پښتو ادب دپاره کوششونه کړي دي. ژبې او ادب ته يې وده ورکړې ده. د دوی دغه ادبي خدمات پهٔ زباني طريقه هم رانښکاره شوې ده او پهٔ تحريري طريقه هم. دوی پهٔ پښتو کښې طرحي مشاعرو ته تقويت ورکړئ دی. او دغسې يې پښتانۀ د پښتو مقصدي شاعرۍ ته مائل کړئ دی. او د خپلې ژبې او ادب د اهميت نه يې پوهه کړئ دی. دوی د مختلفو جرګو پهٔ ذريعه پښتانۀ راويښ کړي دي او د

خپلې ژبې او ادب د اهمیت احساس یې ورکړئ دی. دوی پهٔ مختلفو ادبي او علمي تقریرونو کښې د خپلو شانداره تقریرونو پهٔ ذریعه پښتانهٔ د خپل ثقافت او ادب نه خبر کړي دي. او د هر څهٔ نه زیات لوی خدمت یې دا دی چې پهٔ پښتو ژبه کښې یې ډېر علمی او درانهٔ کتابونه لیکلي دی. چې د پښتو ادب پهٔ تاریخ کښې د یو ځلندهٔ باب حېثیت لری. د دوی د ادبي خدماتو دغه انداز ته چې سړی ځیر شي نو داسې ښکاري چې عبدالاکبر خان اکبر یو سړی نه بلکې یوه اداره وه او یو تحریک ؤ چې پهٔ مخه روان ؤ. پهٔ پښتو ژبه او ادب یې احسانونه کول."
(۴)

خان بابا که یو خوا د پښتنو خدمت کړئ دی. د ازادئ علمبردار دی. د جهالت پهٔ ضد یې د علم او تدریس تبلیغ کړئ دی. د بېدارئ ناره یې د تقریر و تحریر پهٔ لاس غږولې ده. ولې بل خوا یې هم ددې عرض پهٔ لمن کښې د پښتو ادب لوی خدمت کړی دی. د هغوی د دغه رجحان پهٔ هکله پروفیسر رښنواز طائر لیکی:-

"خان عبدالاکبر خان اکبر چې د پښتو ژبې یو لوی لیکوال، ښهٔ شاعر، او اهلِ علم دی. هغه د پښتو ژبې، د ادب د جدیدو رجحاناتو سرپرې غړی هم دی."(۵)

ارباب عبدالعفور خان خلیل لیکی:-

" (خان بابا) خپله ټوله زندګي د قام او وطن خدمت ته وقف کړه او تر آخره دمه پورې خان مرحوم خپل وس او توان مطابق پهٔ خپله طریقه دا خدمت وکړو." (۶)

خور سیده بشریٰ بیګم (س ب ب) پهٔ دغه هکله رایې څرګندوي:-

"هغه (خان بابا) د پښتو ژبې ترقي خوا ادیب ؤ. هغه یو روشن خیاله شاعر او یو ښهٔ نثر نګار ؤ. هغه د خپل ژوند مقصد صرف او صرف د پښتون قام او د پښتو ژبې خدمت ؤ. او د هغه د زړهٔ خواهش ؤ چې زما قام دِ د ترقي یافته او آزادو قومونو سیال شي او زما ژبه د دنیا د ژبو سره سر وهي." (۷)

خان بابا د خپل ادبی رجحان پهٔ هکله لیکی:-

"دا کتاب (تراخۀ خواږۀ) زما د احساساتو او سیاسي حالاتو یوه تته غونډې ائینه ده. د آزادۍ او د پښتون قام د خدمت پۀ لار کښې ما د خپل فکر قابلیت پۀ کافي اندازه د الفاظو پۀ شکل کښې پۀ مناسبو موقعو قام ته پیش کړی دی...زمونږ اکثره شاعران د پښتو شاعران څۀ د اردو فارسۍ شاعران داسې تقلید کوي لکه چې شاعري هم د خدای له طرفه یوه نۀ بدلیدونکي مذهب وي ...زۀ پۀ شاعرۍ فخر نۀ کوم. شاعري نۀ زما کسب دی، نۀ زما د معاش ذریعه. ما فقط د وطن د ازادۍ، د پښتنو د اصلاح پۀ غرض د سیاسي حالاتو د اثر لاندې د خپل زړګي اواز پۀ داسې رنګ ظاهر کړي دي چې اوریدونکو ورته شعر وئیلی دی. زما اکثر وینا نۀ مخمس ده نۀ مسدس، نۀ چاربېته، نۀ نیمکۍ وغېره. ما یې دا پروا نۀ ده ساتلې خو چې پۀ کوم ځای پۀ کومه کړۍ کښې مطلب پوره شوی دی او د هندوستان پېي د پښتنو د خراړې نۀ ځار کړې ده. ما د عربو مجنون لیلی، د ایران فرهاد شرینۍ، د پښتنو د کونډې رنډې نۀ صدقه کړې ده." (۸)

خان بابا پۀ خپل وطن مئین دی، خپله خاوره ورته مشک او عنبر ده. خپله پښتو ورته د هر څۀ نه زیاته ده. د پښتنو رونړ مستقبل یې ارمان دی. هم دغه احساس ورله زړۀ داسې سورې سورې کړی دی چې ارام او قرار یې ختم شوئ دی. د عام شاعر پۀ حیثیت یې شونډې او سترګې هډو خولې ته نۀ راځي.

پروفیسر پرېشان خټک د خان بابا د شاعرۍ پۀ هکله لیکي:-

"ما پۀ دې مجموعې (ادبی بنګه) کښې ډېرې پاڼې واړولې، دوه سترګې مې ځلور کړې، سر مې اوبړۍ کړو چې که چرته خو پۀ کښې د ګل او بلبل، شمع او پتنګ، زلفو او شونډو ذکر بیا مومم ځکه چې شاعري خو بې ددې نه پوره کیدی نۀ شي ولې پۀ ادبي پنګه کښې داسې هیڅ پۀ لاس رانۀ غلل. خبر نۀ یم چې خان بابا ولې د اسلافو د روایاتو نه بغاوت کړې دی. او د کشرانو د ذوق خیال یې نۀ دی ساتلی." (۹)

دا ځکه چې خان بابا شاعر یو نمونۀ (Ideal) ګڼي. هغوی ته معلومه ده چې شاعر او ادیب هغه عظیمې هستۍ دي چې قامونه جوړوي هم او ورانوي هم. د

دومره غټ بار وړونکي خلق بايد چې بې لاره نشي او داسې عظيم کردار ولري چې هم د دوی سره ښايي.

خان بابا نېغ د قلم خاوندانو ته مخاطب دی وای:-

"زما رونړو! د شعر او سخن خاوندانو! د قام جوړېدل او تباه کېدل تر ډېره حده پورې ستاسو پۀ لاس کښې دی. تاسو قوم له يو نوی تخيل ورکونکي خلق يی [ياست]. تاسو د قوم د جذباتو، د احساساتو د ائينو خاوندان يئ [ياست]. تاسو د قام او د جذباتو بېداروونکي يئ [ياست]. ها! يو عرض کوم چې همېشه د خپل فن د ترقۍ خيال وساتئ. همېشه شعر و سخن خپل تخيل د قامي، سياسي، تمدني تعمير پۀ لار کښې د صرف کولو کوشش اوکړئ. دنيا ځان پسې روانه کړئ او تاسو دنيا سره ځئ." (۱۰)

پۀ يوه بله خطبه کښې خپله نظريه داسې وړاندې کوي:-

"دنيا کښې هم هغه صالح ادب ژوندی پاتې شوئ دی، چې د يو خاص مقصد او مسير پۀ طرف روان وي. بې مقصده ادب د وخت تاوان او د زړۀ او مغزو زيان دی. صالح ادب پۀ قومونو کښې د تجديد او قوت يوه نخښه ده. قومونه چې پۀ اوده کيدو راشي يا مرګ ته قريب شي نو هغو ی لکه د ړندو د بل پۀ دليل روان شي. زړې لارې ټکوي، سهرې، قصيدې، مرثيې، شاهنامې ليکل شروع کړي او داسې باټان سرخېزيان پۀ کښې پېدا شي چې عادت يې د بل پۀ در کښې سوال او مقصد يې د حاضر وخت د خلقو شاباسی ، واه واه حاصلول شي او مثال يې د هغه ټهېکېدار ،افيم خرڅونکي شي چې د خپلې ګټې دپاره د نشه کوؤنکي څيزونو اشاعت کوي. د افيميانو نه داد حاصلوي، ولې قام له زهر ورکوي او راتلونکي نسل سره ظلم کوي. داسې ادب نۀ ژوندي پاتې شوی دی او نۀ به پاتې شي.

وخت او زمانه د صالح فکر خاوندانو خيالات د څۀ لرې مودې دپاره د مغلتيا پۀ دوړو کښې د خلقو د نظر نه پټولی شي. ولې لعلونه پۀ ايرو

کښې نهٔ پټېږي. اخر ښکاره شي او د عاشقانو د حق د طالب علمانو پهٔ بازار کښې قيمت پيدا کړي." (۱۱)

خان بابا پهٔ خپل يو نظم کښې شاعرانو ته خطاب کوي او خپل ادبي رجحان داسې څرګندوي:

ځئ چې د مجنون زړهٔ کړ شپهٔ ليلٰی هېره کړو
غم د کونډې رنډې د وطن له زړهٔ چاپيره کړو
ځئ چې د ايران شېرينۍ زوړ فرهاد ته وسپارو
فکر د عصمت د خپلو پېغلو رابرسېره کړو
ځئ چې د فرهاد دا نامراده تېشه ماته کړو
لور رمبي ته لاس کړو څهٔ قامي خزانه ډېره کړو
دا پارس بلبل چې همېش وېره د صياد لري
دا هندي پپي چې خوی د وير او د فرهاد لري
خدای شته که بدل يې موږ د دې مېرې پهٔ خاره کړو
ځئ چې د پښتو ادب ته نوی هار پهٔ غاړه کړو(۱۲)

پهٔ يو بل نظم کښې پهٔ ناراسته پښتون د طنز تېرهٔ غشی داسې وروي:-

اشرف المخلوقات، دا دعوٰی د عمل
ټول جهان شو بدل، تهٔ هم ځان کړه بدل (۱۳)

خان بابا د ګفتار پهٔ ځای پهٔ کردار او عمل زور ورکوي او عملي کامونه اخيستل د کاميابۍ ضامن ګڼي.

چې څوک کښېني د بل لاس ته
عاقبت ذليل شي دل شي
ژوندون نوم بس د عمل دی
بې عمله اندام شل شي
تل مراد وته رسيږي
چې يې پوهه پهٔ عمل شي (۱۴)

ګویا د خان بابا شاعري یو افاقي پیغام لري. پښتنو ته د شعر په صورت کښې د علم، پوهې، پېدارۍ او تحقیق درس ورکوي هم دغه وجه ده چې خان بابا د ادب دپاره د ژوند ډلې کلک غړی دی. د هغوی ادبي نظریه د ادب نه کار اخیستل دي، نۀ فقط زړۀ خوشحالول. د هغوی رجحان د ادب پۀ هکله ډېر مثبت دی. هغوی ادب او مقصدیت د یو بل نه بغیر نیمګړي ګڼي او ادب د تحریک پۀ ډول استعمالول غواړي. بې مقصده لیک د وخت ضیاع او د قام سره ظلم ګڼي. خان بابا شاعر او ادیب ډېر ذمه دار شماري او غواړي چې شاعر او ادیب دِ د کار خبرې کوي. د قام د ترقۍ پۀ خاطر د نورو لارو لټول کوي باید چې خپل تخیل او قلم فقط د قام د خېر ښیګړې دپاره پۀ کار راولي. هم دغه تعمیري اصلاحي او ملي ادب د خان بابا ادبي نظریه ده.

لیکل څۀ بې مقصده، دا څۀ ادب خو نۀ دی
چې زړې لارې لټوم دا څۀ مذهب خو نۀ دی
چې تل پۀ بل پسې ځي امر د رب خو نۀ دی
زما پۀ پوزه کښې څۀ پیزوان جلب خو نۀ دی
تقلید د شعر و سخن زه اکبر کفر ګڼم
چې پرې د حق اظهار کولی نۀ شم
ژبه پرې کړی مې له مونډه ښۀ ده
چې تل د بل پۀ توره ژوند تیروی
د داسې مرد نه ښځه کونډه ښه ده
شعر و سخن چې د قانون پابند شي
قلم ټوټې او خولۀ ترې بنده ښه ده (۱۲)

## حوالې


(۱) سندیلوي، ډاکټر سلام، ادب کا تنقیدی مطالعه، (مکتبه میري لائبریري لاهور)، ۱۹۸۸، م ۱۴

(۲) عابد، پروفیسر سید عابد علي، اصول انتقاد ادبیات (مجلس ترقي ادب ۲ کلب روډ لاهور) طبع دوم ۱۹۶۲، م ۱۷

(۳) اکبر، عبدالاکبر خان، تراخهٔ خواږهٔ، یونیورسټي بك ایجنسي، ۱۹۵۸ء، م ی

(۴) حیات، پروفیسر ډاکټر فرخنده، د عبدالاکبر خان ژوند او ادبي خدمات، (ناچاپ)

(۵) طائر، پروفیسر محمد نواز ، د تللیو پهٔ یاد کښې، پښتو مجله خصوصی نمبر، جون ۱۹۷۸، م ۱۳۴

(۶) خلیل، ارباب عبدالغفور خان، د تللیو پهٔ یاد کښې، پښتو مجله خصوصي نمبر، جون ۱۹۷۸،م ۱۳۴

(۷) س ب ب،د تللیو پهٔ یاد کښې، پښتو مجله خصوصي نمبر، جون ۱۹۷۸، م ۱۳۴

(۸) اکبر، عبدالاکبر خان، تراخهٔ خواږهٔ،م ی

(۹) خټک، پروفیسر پرېشان، سریزه، ادبي پنګه، (منظور عام پریس پېښور) دویم ځل ۱۹۷۲، م ۱۰

(۱۰) اکبر، عبدالاکبر خان، صدارتي خطبه د کوهاټ د کانفرنس مشاعرې، اکتوبر ۱۹۳۸ء ،مشموله ادبي پنګه ،م م ۳۷-۳۶

(۱۱) اکبر، عبدالاکبر خان، صدارتي خطبه، د د پښتو لیک ټولنه، ۱۱ اپریل۱۹۵۲ء مشموله ادبي پنګه، م م۳۷-۳۶

(۱۲) همدغه،م م ۶۴-۶۳

(۱۳) همدغه،م ۹۴

(۱۴) همدغه،م ۹۵

(۱۵) همدغه،م ۱۴۳

(۱۶) هم دغه، م ۱۷۳